Constanze von Kitzing

# د صوفیه،
# انیس او عامر سره یوه ورځ




LESESTART
weil uns LESEN weiterbringt

CARLSEN

# راځه او زموږ سره لوبې وکړه!

سلام او ښه راغلاست! موږ هره ورځ یو ځانګړي ځای ته
ځو او هلته په ګډه ډیر خونده ور شیان کوو: دا زموږ د
پاملرنې رنګارنګ مرکز دی. نن به تاسو د پاملرنې د مرکز
د دریو ماشومانو سره لیدنه وکړئ. موږ صوفیه، انیس
او عامر یو! وګورئ چې نن موږ څه کوو.




دا زموږ د ټولو ماشومانو او ښوونکو سره د پینګوین ګروپ دی.




په هره پاڼه کې یو کوچنی موږک پټ شوی دی.
آیا تاسو یې موندلی شئ؟ که تاسو غواړئ نو کولای
شئ چې د ګروپ د عکس څخه یو ماشوم انتخاب
کړئ. هغه نن څه کوي؟ ما ته د دې په اړه ووایه. آیا
تاسو هغه دوه څناور موندلی شئ چې هغوی هم د
پاملرنې رنګارنګ مرکز ته ځي؟ هغوی نن څه کوي؟

## هغه ورځ یوه رنګاداره ورځ ده!




زموږ مور و پلار موږ هر سهر د پاملرنې مرکز ته راولي. موږ په پینګوین ګروپ کې یو. صوفیه په خوښۍ سره خپل پلار ته لا خوزوي. عامر پخپله خپل چپل اچوي. انیس ولې ژاړي؟

**ما ته ووایه:** ته هم د پاملرنې مرکز ته ځې؟ هلته څوک ستاسو ملګري دي؟




سلام طارق،
خوښ شوم چې
ومې لیدې!
راځه، موږ
سندره وایو!
هلته کېک
دی!
دلته ستا تاج
دی، عامر.
نه، دا زما
موټر دی!
دا زما موټر دی!
د ګروپ په خونې ډېر څه رامنځته شو. موږ سباناري
وکړه او سندره مو وویله. موږ لوبې او هنرونه ترسره کړو.
موږ نقاشي وکړه او کتابونه مو ولوستل. انیس خپل کالي
بدلوي. صوفیه پزل کوي. عامر ولې تاج ترلاسه کوي؟
موږ د
روزي د سیټ سره
لوبې کوو.
زما وار
دی!
ما ته ووایه:
ته زیاتره د چا سره لوبې کول خوښوې؟
ته کومه سندره ویلی شی؟


نقاشي کول
پنګوین
کېک
ستول
پزل
نیلي ساعت
زنګ
لوستل

موږ په جيم کې سپورټ کوو. موږ ختلی شو، سلایډ کولی شو، بال کولی شو او منډه وهلی شو. نادین او اسحاق زموږ پاملرنه کوي. انیس تیزه منډه وهي. عامر په بیم ګرځي. صوفیه ولې دومره خوشاله ده؟

**ما ته ووایه:**

ته کوم سپورټ تر ټولو زیات خوښوې؟
ته د بال سره لوبې کول هم خوښوې؟






د غرمې د وخته پورې موږ وږي شوي يو. موږ په ګډه خپل د غرمې ډوډۍ پخوو او خورو. صوفيه او نوي والدين زموږ سره په پخلنځي کې مرسته کوي. عامر ميز ته ناست دی او د خپلې کليزې د شمعو په انتظار دی. د انيس په خوله کې څه دي؟

**ما ته ووايه:**
ته څه خوړل غواړې؟
ته کوم ځای مرسته ترلاسه کول غواړې؟






د غرمې له ډوډۍ وروسته به موږ دمه کوو. موږ تشناب ته ځو او بیا خپل لاسونه مینځو. ځینې ماشومان لږ وخت ویده کیدل غواړي. انیس خپل غاښونه بروس کوي. عامر په زینو ناست دی. صوفیه چیرې منډې وهي؟




**ما ته ووایه:**
تا تر ټولو ښه خوب کوم یو لیدلی دی؟
د غرمې د ډوډۍ وروسته ته څه کوې؟




زه به ستا سره یم!
تشناب کوم ځای دی؟
مرسته درسره وکړم؟
ما ته ووایه:
ته زیاتره کومه لوبه کول خوښوې؟
د پاملرنې له مرکز څخه تا څوک بوځي؟
نبه پل!
دا خونده ور دی!
8 - 9 - 10! زه راځم!
زما په لاس کې څو ممی یا ګونګټی دي؟
ماسپښین ټول ماشومان بهر د لوبې میدان ته ځي. هلته موږ د ختلو لوبه او په شګه کې لوبه کولی شو. موږ خنګیدی او پټیدی شو. صوفیه فټبال کوي. عامر په چټکۍ سره راکوزیږي. انیس ولې منډه وهي؟
زه راځم!
زما ماشوم کوم ځای دی؟
زه کور ته تلل نه غواړم!
های، ممي! ستا سره په بیا لیدنې خوښ شوم!
د شګې په ځای کې د شګې مقدار څه دی؟


درې څرخی
8 - 9 - 10!
شمیرل
لټول
ویلچئیر
پتنګ
شین سکوټر
سبزیجات

# راځه زموږ سره ورځ تېره کړه!




Hier gibt es die Geschichte in deiner Sprache. Viel Spaß beim Lesen!

Here is the story in your language. Enjoy reading!

هنا تتوفر القصة بلغتك. نتمنى الكثير من المتعة عند القراءة!

اينجا داستان به زبان شما موجود است. از خواندن آن لذت ببريد!


Exklusive Sonderausgabe 2023 im Rahmen des Programms „Lesestart: Weil uns Lesen weiterbringt. Ein Projekt für Kinder mit Fluchterfahrung."


© 2023 Carlsen K – die Agentur für Kindermedien


Carlsen Verlag GmbH, Völckersstraße 14–20, 22765 Hamburg
Projektleitung: Meike Beurer, Sina Hahnemann
Konzept: Christine Mildner, Grafik: Anja Winteroll
Artikelnummer 61063-01

**www.carlsen.de**
**www.carlsen-k.de**

LESESTART weil uns LESEN weiterbringt
www.weilunslesenweiterbringt.de

Stiftung Lesen

GEFÖRDERT VOM
Bundesministerium für Bildung und Forschung